# دَ بیاض او علي خان توارد (تضمین)

**Zar Muhammad Sangar***

**ABSTRACT:**

*Muhammad Bayaz Sahib (1200 A.H) a classical Pashto poet can be called a versatile poet. His poetry possesses a variety of thoughts. To some extent he seems a poet of Indian style poetry. This research paper shows the impact of his poetry on Ali khan. In addition the co-incidents of their poetries are also discussed here for the first time this resemblance is brought out & the comparison between the mentioned poets is made. So, as a result the readers will get new information in this research paper.*

دَ بیاض دَ زمانې، وخت، نسب او کور کلي په حقله مونږ دا معلومات لرو. چې په نسب جدون(گدون) دَ زېدې (صوابی) اوسېدونکے ؤ. او دَ دولسمې صدی ۱۲۰۰ھ په اخېره کښې تېر شوے دے، دَ څوکنو دَ میا محمد عمر صېب په خاصو مرېدانو کښې ؤ. او په ډېرو شعرونو کښې ئې دَ هغوي سره دَ مینې او عقیدت څرګندونه کړې ده.

قاضي عبدالحلیم اثر لیکي:

" هر کله چې میا صاحب محمد عمر دَ څمکنو علیه الرحمة په قول دَ کاظم خان شېدا او دَ میا محمد سعید باز ګل او دَ ملا دَ ادین سره په ۱۱۹۰ء کښې وفات شوے دے. او بیاض په دغه پورته شعر کښې وائي چې:

چې مرید دَ میا صاحب دَ څمکني شه

* Lecture Pashto Department, Islamia Collage University Peshawar

نو دَ دې شعر نه دَ بیاض زمانه معلومېدے شي، چې دَ ۱۲۰۰ھ د اخیرنۍ حصې سرے دے. دغه شان بیاض په یوه قصیده او دوه مخمسونو کښې دَ میا صاحب محمد عمر دَ کشري ورور میا محمد موسیٰ دَ مشري زوے چې میا محمد سعید باز ګل نوم ئې ؤ. دَ دې باز ګل دَ وفات مرثیه او قطعه دَ تاریخ ئې لیکلې دۀ. چې باز ګل په ۱۲۰۰ھ کښې په حق رسېدلے دے، لکه چې وائي:

په سنه دَ زر او دوه سوه دا غم ؤ
ورځ اتبار او دَ شبقدر سپارسم ؤ
بېلتانۀ چې را پېښ کړے دا ورهم ؤ
ځائے په زړۀ کښې مې دَ غم کله دَ زغم ؤ
باز ګل جي دَ جنازې په اس نن سور ځي

دَ دې نه معلومېږي چې بیاض دَ ۱۲۰۰ھ نه وروستو هم ژوندے ؤ"[۱] (ص، ۸۱، ۸۲)

دا خو دَ بیاض دَ دیوان نه هغه داخلي شهادت ؤ، چې دا ترې نه ښه په اسانۍ سره پته لګي. چې بیاض دَ ۱۲۰۰ھ نه وړاندې او وروستو هم ژوند کړے دے. بل خوا زمونږ دَ کلاسیک دورې ډېر اهم شاعر علي خان چې تر اوسه پورې پرې زمونږ لیکوال او محققین یوه خُلۀ نۀ شول. عن تر دې چې په نوم ئې هم مسئله ده. څوک وائي چې علي خان، څوک علي احمد خان او څوک ئې محمد علي خان یادوي. دغه شان ئې دَ نسب، کور کلي او ځائے ځائیګي په حقله هم تول متفق نۀ دي. دَ پېدائش ئې هم پوره او صحیح اندزه نۀ لګي. چې کله او کوم ځائے پېدا شوے دے. دغه لاینحل بحث پخپل ځائے خو دَ هغوي دَ دیوان نه مونږ ته په داخلي ثبوت سره ثابتېږي. چې دَ دولسمې صدۍ په اخېري حصه کښې ئې ژوندتېر کړے دے. او زمونږ اکثرو لیکوالو دَ هغوي دغه شعر په ګوته کړے دے چې:

سن دَ هجر غر ؤ سر دَ کاني تري کمتر ؤ
ورځ وه ديارلسمه دَ ذوالحجې په تحرير کښې

تقويم صيب او نورو ډېرو محققينو دَ دې شعر نه ۱۱۸۰ھ ماده دَ ابجدو په حساب سره راويستې ده.

خو بل خوا قلندرمومند او دَ هغوي پيروکار ئې ۱۲۲۰ھ ماده راوباسي چې دغه دَ محمدي صاحبزاده دوفات کال دے. دَ محمدي صاحبزاده دَ وفات دَ کال او تاريخ په حقله ډاکټر اقبال نسيم خټک صيب پخپل کتاب "دَ رنګ او بو قافله" کښې دَ قلندر مومند صيب دَ ۱۲۲۰ ھ دَتاويل په بابله ليکي چې:

"ښاغلے قلندر مومند دَ ع " سن دَ هجر غر او سر دَ کاني تري کمتر" شعر تاويل داسې بيانوي چې "غر" دَ ابجدو په حساب ۱۲۰۰ جوړيږي. سر دَ کاني يعنې ک " چې ترې کمتر دے. که ورجمع کړے شي، نو دا به ۱۲۲۰ھ جوړ شي. او دا دَ محمدي صاحبزاده دَ مرګ کال دے. زۀ دغه تاويل بيخي بې ځايه نۀ ګڼم. په شرط دَ دې کۀ دَ کال ۱۲۲۰ھ سره ۱۳ ذوالحجه په صحيح روايت يا سند سره ثابت کړے شي".[۲]

ښاغلي قلندر مومند صيب چې دَ علي خان دَ دغه پورتني شعر کوم تاويل کړے دے.او ۱۲۲۰ھ کال ئې ترې نه راويستے دے. دَ هغوي دغې دعوې ته تقويت په دې نور هم رسي. چې دَ محمدي صاحبزاده همعصر او مريد مولانه دادين، چې پوره نوم ئې عبيد الدين دے. دَ محمدي صاحبزاده دَ وفات په حقله په خپل مناقب کښې ليکلي دي چې " محمدي دَخَل الجنة" دَ دې نه په ابجدي حساب سره ۱۲۲۰ھ کال راوځي." روحاني رابطه او روحاني تړون کښې دغه ذکر قاضي عبدالحليم اثر افغاني په صفحه ۸۲۱ کړے دے. پروفيسر ډاکټر محمد حنيف سابق چئيرمېن مدرسه دينيات اسلاميه کالج پشاور په خپل تحقيقي کتاب " حيات و اثار حضرت ميا محمد عمر چمکني" کښې په صفحه نمبر ۳۳۵ ليکي چې

"محمدي صاحبزاده په کال ۱۲۲۰ هـ بمطابق ۱۸۰۵ء کښې وفات شوے دے. مزار ئې په څوکنو کښې دَ خپل پلار دَ مزار په خوا کښې دے. او په ابجدي حساب سره "محمدي دَخل الجنة" نه دَ وفات کال راوځي"[۳]

په دې بابله وړاندې هم په دغه صفحه ۳۳۵ کښې ليکي، چې دَ محمدي صاحبزاده بل ورور احمدي ؤ. يوه خور ئې زين النساء وه. مناقب مولانا دادين وائي:

چې لائق محمدي دَ سجا دې دے
ستر گې دے دَ تمامې خانوادې دے
ځکه ور ئې کړه ودته سجاده
چې منظور ؤ دے دَ خدائے په اراده
صاحبزاده محمدي گل دَ گلاب ؤ
ډېر خوشبويه، ډېر خوشرويه تر مهتاب ؤ[۴]

بهر حال هر څۀ چې دي. خو زمونږ کار دَ بياض صاحب او د علي خان دَ زمانې سره دے. دواړه دَ يوې دورې شاعران تېر شوي دي. دَ دواړو پير خانه يوه ده. علي خان هم دَ څوکنو دَ استانې سره تړلے دے. او بياض هم لکه چې علي خان وائي:

زۀ پيرو دَ محمدي يم، هم تابع دَ صاف جامي يم
په دا دواړو پسې ما ځکه کړې اقتدا ده

دا غزل دې ځکه خوږ شه علي خانه
چې په نيت دَ صاحبانو دَ زيارت لاړ[۵]

او بياض صاحب وائي:

خو چې نوم دَ میا عمر صاحب څوک اخلي
هغه لور ته زۀ بیاض لاس په سلام یم
غم به نۀ وینې بیاض تر مرګه پورې
چې مرید دَ میا صاحب څوکنې شه[۶]

داسې نور ډېر شعرونه شته چې دا ثابتوي چې دې دواړو روحاني فیض هم دَ دغه ځائے نه حاصل کړے دے. او دَ دواړو شاعرانو اثر هم دَ دغه ځائے نه په یو بل شوے دے. خو دا صحیح اندازه نۀ لګي. چې په دوي کښې مشر څوک دے. او کشر څوک دے. چې علي خان دَ بیاض نه که بیاض صاحب دَ علي خان نه اثر اخستے دے. یا دې دواړو دَ محمدي صاحبزاده نه اثر اخستے دے. ځکه چې دَ دواړو په دیوانونو کښې دَ خوشحال بابا ، رحمان بابا او عبدالحمید بابا رنګ او اثر زیات په نظر راځي. بلکې دَ حمید بابا او علي خان خو ډېر توارد راغلے دے. او علي خان دَ محمدي صاحبزاده په غزلونو هم تضمین کړے دے. په دې حقله ښاغلي ډاکټر محمد زبیر حسرت په خپله مقاله " دَ علي خان فکري، فني او معنوي ماخذونه" کښې دَ قلندر صېب مقدمه، چې دَ محمدي صاحبزاده په دیوان ئې لیکلې ده: لیکي چې:
"څۀ هم که علي خان خپله زیاتره شاعري دَ محمدي صاحبزاده دَ غزلونو په زمکو کړې ده. یا محمدي صاحبزاده دَ علي خان لیک شان خپل کړے دے. او په دې سلسله کښې قلندر صاحب خپله مقدمه کښې په مخ "ح" کښې هم لیکلي دي."

"علي خان ځان دَ محمدي صاحبزاده پیرو ګڼي. او دَ پیروۍ دَ حق دَ ادا کولو دَ پاره ئې دَ خپل مرشد دَ غزلو او دَ شعرونو نه ښۀ پوره استفاده کړې ده. [۷]

دا خبره به اوس رښا ته راولو. چې علي خان دَ بیاض نه استفاده کړې ده کۀ بیاض دَ علي خان نه . یا ئې دَ هغۀ په زمکو غزلې لیکلې دي. تر اوسه پورې

زمونږه اکثر ليکوال او محققين پرته دَ ډاکټر محمد زبير حسرت صيب نه، چې علي خان په خپل يو مشهور غزل کښې دَ کوم "صاحب" ذکر کړے دے. دا خبره رڼا او سپيناوي ته نۀ ده راوستې. لکه چې دَ علي خان دَ ديوان په مقدمه کښې حبيب الله رفيع صيب ليکي

"په دې سربيره ئې دَ پښتو دَ زاړه ادب هم ژوره مطالعه کړې ده دَ خپلو اسلافو خوږې وېناوې لوستې وې. چې په وينا کښې ئې دَ دوي اغيز له ورايه ښکاري، خو له دې ټولو سره سره يواځې دَ "مېرزا" او "محمدي" نومونه اخلي او هم دَ پښتو يو شاعر دَ "صاحب" په نوم يادوي. او دَ غزلې تضمين ئې کوي.

دا هغه قسم غزل دے چې "صاحب" وي
"لـــه خـــاطره مـــې ارام او جمعيـــت لاړ"

خو دا نوم دَ احترام له پاره اخلي او دَ درناوي له امله ئې صاحب بولي، چې لا تر اوسه معلوم نۀ دے. چې څوک دے؟"[۸]

خدائے بخښلي تقويم الحق کاکاخېل هم دَ علي خان په ديوان کښې دَ دې شعرونو تشريح داسې کړې ده.

" دا هغه قسم غزل دے چې صاحب وي
لـــه خـــاطره مـــې ارام او جمعيـــت لاړ
تبعيـــت[۱] دے دَ تمثيـــل واهمـــه نشـــته
ستـا بارګـاه تـه پـه دا هسـې روايـت لاړ

[۱] تبعيت: دَ بل تابع کېدل. تمثيل دَ بل په شان کېدل.

چونکې مخکې ئې ذکر وکړو چې، دا غزل مې دَ صاحب په مصرعه " لـه خـاطره مې ارام او جمعيت لاړ" وئيلے دے. دَ دې وجې نه وائي . چې دا مطلب مې نۀ دے. چې دا دَ هغۀ په برابرۍ کښې وئيلے شوے دے دَ برابرۍ وهم هم نۀ شي کېدے، بلکې دا دَ هغه په تقليد او تابعدارۍ کښې وئيلے شوے دے"

"دَ رنګ او بو قافله" کښې ښاغلے ډاکټر اقبال نسیم خټک صېب هم دَ "صاحب" په حقله لیکي چې:

"دَ علي خان په دیوان کښې داسې غزلې هم شته، چې دۀ او صاحبزاده محمدي په یوه زمکه وئیلي دي. دَ علي خان دا مشهور غزل:

دا هغــه قسـم غــزل دے چــې صــاحب وې
لـــه خـــاطره مـــې ارام او جمعیـــت لاړ
تبعیـــت دې دَ تمثیـــل وا همـــه نشـــته
ســتا بــار ګــاه لــه پــه داهســې روایــت لاړ
دا غـــزل دې ځکـــه خوږشـــه علـــي خانـــه
چـــې پـــه نیـــت دَ صـــاحبانو دَ زیـــارت لاړ[9]

دَ دغه غزل په حقله دَ ښاغلي رشتین وینا په خپل ځائے، خو دَ صاحبزده محمدي په چاپ شوي دیوان کښې دغه مصرعه نشته. نو اوس به مونږ دَ چا نوم اخلو. چې علي خان دَ چا په مصرعه تضمین کړے دے. او کوم صاحب ته ئې لیږلے دے.[10]

مرحوم صاحب شاه صابر په خپله مقاله " دَ علي خان ژوند او قبیله" کښې دَ علي خان دغه غزل ته دَ کوم ذکر چې مونږه بره وکړو. متنازعه غزل وئیلے لیکي:

"دَ علي خان یو بل غزل هم متنازعه دے. دَ دغه غزل په حقله هغه پخپله یوه مصرعه کښې وائي چې

چې په نیت دَ صاحبانو دَ زیارت لاړ

خو صاحبان ئې نۀ دي ښودلي. دَ رښتین صاحب په خیال ئې دغه شیخ رحمکار سره دَ عقیدت په خاطر زیارت کاکا صاحب ته لیږلے ؤ. دمیا تقویم الحق کاکا

خپل په وېنا ئي صاحبزاده محمدي ته لېږلے دے. خو ليکوال دَ دواړو رايو نقل کولو باوجود په دغه حقله هېڅ نهٔ وائي [۱۱]
محترم تقويم الحق کاکا خېل صېب، محترم حبيب الله رفيع صېب، ښاغلے ډاکټر اقبال نسيم خټک صېب او خدائے بخښلي صاحب شاه صابر صېب، چې دَ کوم "صاحب" په حقله دَ شک اظهار کړے دے. او وئيلي ئې دي چې دا "صاحب" څوک دے. يا څوک کېدے شي؟ چې علي خان ئې دا مصرعه راخستې ده.

" له خاطره مې ارام او جمعيت لاړ"

نو په دي بابله ښاغلي ډاکټر محمد زبېر حسرت صېب په خپل کتاب "علي خان ژوند ، فن اوفکر" کښې دغه شکوک او شبهات ختم کړي دي. ليکي چې:

"دا هغــه قســمه غــزل دے چــې صــاحب وې
لـــــه خـــــاطره مــــې ارام او جمعيـــــت لاړ

ښاغلي سيد تقويم الحق کاکا خېل د علي خان دَ ديوان په دوېم چاپ کښې دَ " يو دوه خبرې " دَ عنوان لاندې ليکلي دي. چې دَ ميا محمدي صاحبزاده په ديوان کښې هغه مصرعه ونهٔ موندے شوه په کومه چې علي خان تضمين کړے دے. بيا ئې دغه پورته ليکلے شوے شعر ليکلے دے. او بيا ئې ليکلي دي چې او دا ثابته نهٔ شوه چې دَ علي خان دَ مريدئ تعلق دَ دې صاحبزاده سره ؤ، خودا هم لا نهٔ ده ثابته شوې چې نهٔ ؤ."
زما دَ تحقيق له رويه دغه مصرعه دَ "بياض صاحب جدون" دَ ديوان يوه مطلع کښې داسې راغلې ده.

چــې پــه کــار دَ اشــنائئ زمــا حرمــت لاړ
دَ خـــاطره مـــې دَ صـــبر جمعيـــت لاړ

دا خبره دې هم یاده وي چې ښاغلی بیاض په قبیله جدون ؤ. ډېره موده ئې په زېده (صوابی) کښې تېره کړې ده [۱۲]

په دې بابله هم په دغه صفحه وړاندې لیکي:

" دا خبره بعید از قیاس نهٔ ده، چې دَ میا عمر صاحب دَ څوکنو او دَ هغهٔ دَ سجاده نشین (محمدي صاحبزاده) په مریدانو کښې دَ تصوف په سلسله کښې دَ هر یو ځان له دَ فېضیابی په درجه لقبونه او نومونه ورکړے شوي دي. او دا امکان لري، چې بیاض په دغه سلسله کښې دَ "صاحب" درجې ته رسېدلے او په دغه لقب مشهور شوے وي. او دَ دې نه دا هم ثابتېدے شي. چې بیاض صاحب دَ علي خان نه مشر وي. ځکه چې علي خان دَ هغه دَ غزل په تتبع کښې خامه فرسائي کړې ده. علي خان دَ مذکوره غزل په مقطع کښې وائي:

دا غـــزل دې ځکــه خــوږ شــه علــي خانــه
چـــې پـــه نیـــت دَ صـــاحبانو دَ زیـــارت لاړ

او کله چې موږ هم دَ دې شعر فکري، فني او معنوي پرتو دَ بیاض صاحب دیوان کښې لټوو، نو داسې ئې لولو چې:

ډېـر تعظـیم تسـلیم پـه کښــې وکښــه بیاضــه
پــه زیــارت دَ میــا صــاحب چــې دا غـــزل لاړ

دا فکري، فني او معنوي متشابهات او یووالے زما دَ دعوې ملاتړ کوي، چې بیاض صاحب دَ میا عمر صاحب دَ څوکنو په خاصو مریدانو کښې "صاحب مسند" سړے ؤ او علي خان ئې ځان پیرو منلے دے. [۱۳]

دیوان بیاض په اول ځل په کال ۱۹۵۸ء کښې مولوي محمد ایوب صاحب ګنډېرو شریف ملاکنډ ایجنسی مرتب کړے دے. په هغې ئې هم "دیوان بیاض صاحب" لیکلي دي. هم دغه "صاحب" یعنې بیاض صاحب دے چې علي خان ئې په ډېروغزلو تضمین کړے دے. څومره استفاده، چې ئې دَ محمدي

صاحبزاده او حمید بابا نه کړې ده. هم دغه هومره یا دَ دې نه زیاته استفاده ئې دَ بیاض صاحب نه کړې ده. او دغه شان د دواړو ترمېنځه د احترام یوه رشته ضرور پاتې شوې ده. ځکه چې دواړه د یوې استانې مریدان ؤ او د یو بل نه به ئې اثر ضرور اخستے وي. هسې هم دَ دغه دور دَ شاعرانو اثر په یو بل ډېر زیات دے. لکه څنګه چې نن پښتانۀ په بلا ګیر دي. او ډېرو مسئلو سره مخ دي. که کابل دے، که پېښور دے که کوټه یا کراچۍ. چرته چې هم پښتون اوسي. هلته دَ هغوي ژوند ډېر لنډ تنګ او ګران شوے دے. هغه وخت کښې هم پښتانۀ دَ داسې قسمه ستونزو او پېښو سره مخ ؤ. او مغلو سره برسرپېکار ؤ. نو ظاهره ده چې څنګه هغه وخت دَ ادب تخلیق کېدو. نن هم هغه قسم ادب تخلیق کیږي په هر نظم او غزل کښې دَ کابل او پېښور نه وینې راځاځي. او دَ حالاتو موسم سور انګار شوے دے. ځکه چې دَ پښتون وطن او قام دغه مسئلې کامن(Common) دي. اوس هم او هغه وخت هم. شاعران چې څۀ وینې ګوري او محسوسوي. هم هغه پخپل لیک کښې دَ قلم په څوکه راولي. نو علي خان به خامخا دَ خپلو پېشروانو نه اثر اخستو.

دلته هغه شعرونه وړاندې کوو، چې دواړو په یو وزن بحر، ردیف او قافیه کښې لیکلي دي:

چې ملال کاته کاندي له نازه
یار بلا کاندي زما په صورت سازه
په چمن کښې چې دَ یار تر څنګه ناست یم
هلته لا لذت کوې دَ چنګ اوازه[۱۴]

چې څوک طمع دَ وفا که له مجازه
ګویا غواړي دَ منې لذت له پیازه
دَ تصویر له بوتي طمع دَ ګل مۀ کړه
دَ منقوش مارغۀ محروم وي له اوازه[۱۵]

زړۀ مـــې چـــوي دَ بېلتانـــۀ لـــۀ درده ســـوزه
دا دَلاس چـــاړۀ دې راشـــه پکښـــې کـــوزه
تـــا يـــوه ورځ دَ حيـــا ماتـــه مـــخ نـــۀ کـــړه
زۀ بيـــاض درپســـې ځـــم پرېکـــړې پـــوزه
دَ بيـــاض پـــه غزلونـــو مـــې ســـود کېـــږي
چې مصرعې ورپکښـې وائـي لـه افسـوزه[۱۶]

دَ اشـــــــنا دَ بېلتانـــــــۀ لـــــــه ډزه ډوزه
هســـې اوســـوم لکـــه اوســـېزي څـــوک دروزه
دا چـــې ماتـــه نصـــيحت کـــه پـــه رمـــوز کښـــې
خبـــردار نـــۀ دے دَ مينـــې لـــه رمـــوزه
عاشـقي پـه قـام کښـې نـۀ شـي علـي خانـه
راشــه اوس لـــه کـــور و کلـــي پســـې اوزه[۱۷]

دَ څوکنو دَ ميا عمر صېب په بابله دَ دواړو شعرونه دَ کتو دي.
چې دَ دغې استانې سره څومره مينه محبت او دَ هغې تعظيم او تسليم کوي. او خپل غزل ورته هله خوږ او ښۀ لګي چې دَ څوکنو دَ استانې زيارت وکړي

ډېـر تعظـيم تسـليم پکښـې وخکـه بياضـه
پـه زيـارت دَ ميـا صـاحب چـې دا غـزل لاړ[۱۸]

دا غـــزل دې ځکـــه خـــوږ شـــه علـــي خـــان
چـــې پـــه نيـــت دَ صـــاحبانو دَ زيـــارت لاړ[۱۹]

دَ دې لاندې غزلونو نه ئې دَ نمونې په طور دا يو څو شعرونه هم دَ کتو دي:

چـــې پـــه کـــار دَ اشـــنايي زمـــا حرمـــت لاړ
دَ خـــاطره مـــې دَ صـــبر جمعيـــت لاړ

چې دَ مشر کشر هیڅوک ادب نهٔ کړه
دَ دنیا دَ مخه ځکه برکت لاړ
ګیله هلته پیدا کیږي، چې ئې ځائے وي
وشته توقه دار مدار دَ محبت لاړ
دَ دعا ډیوې به کړه پرې باندې بلې
چې ماښام دَ شهیدانو په زیارت لاړ
دَ بیاض په مرګ به ډیر عالم افسوس که
چې دَ ښکلو خاص غلام دَ خاص خدمت لاړ [۲۰]

چې مې زړهٔ دَ عاشقۍ په طریقت لاړ
هغه دم ځنې ارام او فراغت لاړ
ناست ولاړ دَ یار له غمه هم اغوش یم
له زړګي مې سکونت او حرکت لاړ
رقیب ستا په کوڅه تیر شه عجب کار دے
چې خناس په دغه لاره دَ جنت لاړ
دا هغه قسم غزل دے چې صاحب وي
له خاطره مې ارام او جمعیت لاړ
تبعیت دې دَ تمثیل وا همه نشته
ستا بارګاه له په دا هسې روایت لاړ
دا غزل دې ځکه خوږ شه علي خانه
چې په نیت دَ صاحبانو دَ زیارت لاړ [۲۱]

دغه شان دَ بیاض صاحب او علي خان په نورو ډیرو غزلونو کښې توارد شته دے. په یو وزن بحر، ردیف، قافیه او یو قسم مضمون بیانولو نه دا صفا ښکاریږي. لکه چې دَ بیاض دیوان دَ علي خان مخې ته پروت وي. او په مزه مزه

دهغهٔ یؤ یؤ غزل لولي. او خپل تضمین پرې باندې کوي. لکه په یؤ غزل کښې بیاض صاحب وایي چې :

ربـه یـو ځلـه کـه یـار راسـره یـار کـړي
بیـا ئـې لمـا پـه محبـت بوسـه کنـار کـړي
اوږے زړهٔ بـه دَ خپـل یـار پـه دیـدن مـوړ کـړم
کـهٔ یـو څـو ورځـې بېلتونـه څـهٔ خـو وار کـړي
کـه بـاور دې څـهٔ پـه خـدائے پـه رسـول کیـږي
تـر خپـل ځـان پـه تـا مئـین یـم کـه اعتبـار کـړي
هـم هغـه پـه خـاص مجلـس سـره بالـهٔ شـي
چې لـه خپلـه لاسـه لـوئے پـه خپـل دیـار کـړي
سـپینه ږیـره دې ښائسـته کیـږي بیاضـه
دَ خپـل ځانـه ئې پـه صلاح سره وېزار کړي[۲۲]

مصلحت بـو یـه پـه کـار کښـې کـه تلوار کـړي
اسـان کـار بـه پـه تلـوار سـره دشـوار کـړي
وار دې سـاز شـه وار تـه ګوره وار دې ښـهٔ دے
نـهٔ هـومره وار چـې تېـر تـر چـارې وار کـړي
کـهٔ ځـان نـهٔ وینـې بـې نـورو لکـه کسـے
نـوراني بـه شـي کـه دا قسـم روزګـار کـړي
که شناز غونـدې دې خپـل اندرون صاف کړهٔ
لکـه بـاد بـه دَ دریـاب پـه مـخ رفتـار کـړي
نمـر سـپوږمۍ اسـمان بـه تـل درنـه ځـاریږي
کـهٔ زمـین غونـدې قبـول دَ خلقـو بـار کـړي
کـام ناکـام کـړه علـي خانـه دا متـل دے
پـردے چـې خپلـوې خپـل پـرې نـا تـار کـړي[۲۳]

یو بل غزل چې علي خان دَ حمید بابا په غزل تضمین کړے دے. او دَ مضمون پکښې ډېر زیات توارد راغلے دے. (چې دَ هغې ذکر به خپل ځائے وشي) بیاض صاحب هم دغه شان لیکلے دے. بیاض وائي چې:

یـار لمـا چـې اخـر واخسـت دَ یـارۍ لاس
بـد را پـورې بېلتانـهٔ کـړهٔ پـه خـوارۍ لاس
پـه دعـا دَ خدایـه غـواړم دَ یـار وصـل
چې اوچت پس دنمانځهٔ کړم په زارۍ لاس
توان مې نشته چې بیا سترګې کړم ور پورته
راشه کېده اوس پرې ورو په قرارۍ لاس
کهٔ زما په ځنکدن را حضور نهٔ شوې
بیا په قبر زما مهٔ ږده په چارۍ لاس
چې یاران هزار نیسي بیاضه
ترې اخر به کړې په سر دَ ناچارۍ لاس [24]

بد راپورې کړهٔ بېلتون په ما غمژن لاس
خدائے عادت په هیچا مهٔ کړه دَ دشمن لاس
عاقبت به مې ګرېوان که ګارې واورې
چې راپورې بېلتانهٔ کړو په لمن لاس
شهادت مې ځکه ستا دَ سترګو خوښ شه
چې مې نهٔ رسې دلبره دَ کفن لاس
ښهٔ خو ئې بد کړو دَ یار بدو همنشینو
سپین تار تور شي چې ئې غړې په خیرن لاس
خدائے دې نهٔ که چې به نا علي خان وکه
که ئې کېږدي یار په مال یا په ګردن لاس [25]

په دې پورته ذکر شوو غزلو کښې دَ بیاض او علي خان چې بیاض صاحب دَ غزل دَ مطلعې په دوېمه مصرعه کښې "بد راپورې بېلتانۀ کړۀ" او دَ علي خان دَ غزل دَ مطلعې په وړومبۍ مصرعه کښې هم دغه "بد راپورې کړۀ بېلتون" نۀ صفا برېښي. چې علي خان دَ بیاض کلام لوستے دے.

دَ بل غزل دا شعرونه ئې هم دَ کتو دي لکه:

تش په توره راته څۀ له وهې لافَ
تا وعده د وصال کړې وه خلافَ
بیا به نۀ ګورم ستا مخ ته ستا په سترګو
دا ګناه راته یو ځله کړه معافَ
زما هر سوال وجواب په جې قربان دے
تۀ د خُلې خبره نۀ کړې ماته صافَ
چې دېوان ترېنه په کندو کښې پټېږي
اوس هغه بلا راځي له هر اطرافَ
ګران مونـدۀ شي لعل جوهر کره بیاضه
په دوکان د صرافانو د صرافَ[۲۲]

د علي خان د غزل دا څو شعرونه:

چې وهلي دې په خوا د صبر لافِ
اوس هغه لافِ دې ولې کړې خلافِ
د خسته خاطر شګاف به مې پېوند شي
کۀ یؤ څو خبرې وکړې واشګافِ
اضافت چې دې د مینې راته وشو
لور په لور د غم صیغې شوې را مضافِ
دا فیضان واړه د صافو اننګو دے

چې سینې د شاعرانو ئې کړې صافِ
اخر لوټ کړو علي خان د سورو د هجر
که ئې څو په ځان پوکلې لایلافِ[27]

په دې لاندینو غزلونو کښې ئې هم دَ خیالاتو او الفاظو یو شان والے دَ کتو دے.
خصوصاً دَ دواړو دَ غزلونو مطلعې او مقطعې برخې یو شان دي.

چې پیدا شۀ ستا په مخ دَ خولو پشم
په لمبو دَ بېلتانۀ درست سره یشم
لړزوي زمکه اسمان په سرې باندې
خدائے دې نۀ کاندي خوبان چاته په خشم
چې مې خوند ستا دَ وصال دَ شونډو راغے
شنه منزري ستا دَ هجران په خپله لوَشم
خو چې ستا دَ مینې اور شي په ما پورې
سر تر پایه شنۀ ډوزه سرۀ لمبه شم
بیاض بل جواب دَ یار نیزد ته چې کاندي
وَ هر حکم ته ئې وائي چې په چشم[28]

دَ هجران له ډېره تاوه سره یشم
بېلتانۀ مې ګونه شنه کړه لکه پشم
په بل اور چې اوبۀ پوک وهي نو سوړ شي
د مخ اور ئې کړو لا تېز د خولو پشم
کۀ مې پوه کړې په ګناه ترې به توبه کړم
نۀ پوهېږم چې په څۀ که راته خشم
زۀ به څنګه وفا غواړم له اسمانه
چې داهسې یوه شنه مزرۍ رالوشم

بــل جــواب علــي خــان نــه زده د خوبــانو
خـو هـر حكـم تـه ئـې وائـي چـې پـه چشـم [29]

د بياض او علي خان نور هم ډېر داسې غزلونه شته چې په يو بل ئې اثر شته دے. دا لاندېني غزلونه چې د بياض غزل اووه شعرونه لري. او په دغه زمکه د علي خان دَ غزل نولس شعرونه دي. دَ مثال په توګه دوه درې شعرونه:

کـۀ د جفـا غشـو تـه زه دا خپـل سـر ونيسـم
ګونـدې پـه خـوا پـورې هلـه ښـکلے دلبـر ونيسـم
کـۀ تـش تېـر شـم پـه کوڅـه بانـدې د ښـکلو
ګويا غېږ کښې د اسمان شمس و قمر ونيسم
مـا بيـاض تـه يـار وئيـل چـې څـۀ خـو لـوئے شـم
تـا بـه زۀ پـه سـپينه خُلـۀ بانـدې نـوکر ونيسـم [30]

چــې دَ خيــال پــه لاســو تــن دَ دلبــر نيســم
دَ هلــک پــه دود پــه لاس کښــې قمـر نيسـم
د کـوڅې ګـوټ بـه دې پـرې نـۀ ږدم رقيـب تـه
اپريــدے شــوم و مغــل تــه خيبــر نيســم
کـه دې خـلاص نـۀ کـړم دلـې لـه شـورو شـره
علـي خـان بـه دې لمـن پـه محشـر نيسـم [31]

دَ بياض صاحب په ديوان کښې په دوو ځايونو کښې په صفحه ۹۹ او په صفحه ۱۲۷ – ۱۲۸ د سليم په تخلص دوه غزلې راغلې دي. خو دا پته نۀ لګي چې دا سليم څوک دے. اوپه صفحه نمبر ۵۴ د محمد صديق په تخلص هم يو غزل

شته. خو په صفحه ۱۲۷ – ۱۲۸ چې کوم غزل د سليم په تخلص سره ليکلے شوے دے. دغه پورته ذکر شوي غزلونو سره سمون خوري لکه:

مخامخ به کله ناست وم دَ دلداره
که خبر وے چې به ما په دلبر نيسي
په يوه نظر ئې هسې شان بندي شوم
کله زاغ دا رنګ صياد په هنر نيسي
چې ئې نوم د حُسن لاړ شي په عالم کښې
کله څوک به ئې له مخه نظر نيسي
دَ هغه چې عشق منظور په خاص و عام شۀ
دَ سليم غوندې که جان په شرر نيسي [۳۲]

د بياض او علي خان يو بل غزل چې د بياض د غزل په زمکه ليکلے شوے دے په يو رديف قافيه کښې دے. يو څو شعرونه ئې وګورئ.

بې ګلونو که چمن شي مۀ ئې وينه
بې يارانو که وطن شي مۀ ئې وينه
چې ظاهر په خُلۀ لباس په زړۀ کښې کوږ وي
هغه دوست بدتر دشمن شي مۀ ئې وينه
که تر ځانه په تا ډېر ګران وي بياضه
چې بد خويه بد سخن شي مۀ ئې وينه [۳۳]

يار اشنا چې کبر ژن شي مۀ ئې وينه
چې بې پته دروغژن شي مۀ ئې وينه
بې اخلاصه اقربا واړه پردي دي
که دې پلار وي چې دشمن شي مۀ ئې وينه

چې بې آبه بې حرمته پکښې اوسې
هغه ځائے که دې وطن شي مهٔ ئې وینه
که هر څو په صورت روغ وي علي خانه
چې په خوئي خصلت پمن شي مهٔ ئې وینه [۳۴]

په دا لار د اشنائۍ باندې تلې تلې
په لمبو د خپلې مینې سره سولي سولي
چې په ننګ د قام روان شي جار واتهٔ ورته خپل ګران شي
په بیابان دَ تورو خاؤرو جوړ که څلي څلي

څهٔ خو مخ ورته ښکاره که بیا ئې پټ په سلاره که
بیاض ستا په اشنائۍ کښې ګرځي غلي غلي [۳۵]

چې په تېغ تا د چشمانو کتل تل تل
خود به مړهٔ څله بې ځایه تبل بل بل
نشه نهٔ لري د یار د شونډو عشر
کهٔ جامونه مې د میونو شل شل شل
چې یو اوښکې ژاړي بل له ښائي وینې
پتنګان ځکه د شمعې په سول سول سول
باغ له ځي یا به خپل ځان په ازغو غوڅ که
یا به راوړي علي خان په منګل ګل ګل [۳۶]

دَ علي خان او بیاض د توارد او تضمین چې کومې حوالې د دواړو د دیوانونو نه ورکړے شوې لوستونکو ته به ډېره په اسانۍ سره دا انداز ولګېدلې وي.

چې د دواړو په یو بل باندې ښکاره اثر شته. خو ښکاري داسې چې علي خان د بیاض نه اثر اخستے دے. ځکه چې بیاض د علي خان نه مشر دے. او دواړه د ځوکنو د میا محمد عمر په مریدۍ کښې شامل ؤ. چې د هغې ذکر وړاندې شوے دے.

له دې نه پرته د بیاض صاحب په شاعرۍ د خوشحال بابا، رحمان بابا او حمید بابا اثر هم شته، چې هغه ځانله د یوې بلې مقالې متقاضي دے.

بهر حال هر څۀ چې دي. خو علي خان په دې بابله ځان د هر څۀ نه بري الذمه کړے دے. او وائي چې:

"عاریت د معنی متن ځکه نۀ کړم
چې غالب نۀ دے په ما د فکر جوع
عار خو نۀ دے اتفاق که چرته پېښ شي
مۀ کړه خدائے چې په جسته وي درجوع

او د دې شعرونو تشریح تقویم الحق کاکاخېل هم په دغه صفحه نمبر ۱۰۴ داسې کړې ده چې

۱. عاریت: د بل نه غوښتل، یعنې د بل چا الفاظ یا معنې نه پټوم. ځکه چې زما فکر خپله سېراب دے. اوږے نۀ دے. چې د نورو به سوال کوي.

۲. البته اتفاق که پېښ شي چې زما تخیل او د بل شاعر تخیل یو شي. نو دا څۀ بده خبره نۀ ده. بده هله ده. چې قصداً د دې تلاش کوي. چې د بل تخیل راواخلي."[۳۷]

خو د بیاض صاحب په دې شعر به ئې فېصله کړو چې:

دا غزل به که تعویذ ښکلے په غاړه
که تمام په منِ الجنة والناس شي[۳۸]

# حوالې

[۱] تېر هېر شاعران، اثر افغاني، قاضي عبدالحليم، پبلک آرټ پرېس پېښور، چاپ کال ۱۹۲۳ء، ص ۸۱، ۸۲

[۲] رنګ او بو قافله، اقبال نسيم خټک، ډاکټر، اداره علم و ادب پاکستان صوبه سرحد، چاپ جولائي ۱۹۹۱ء.

[۳] حيات و اثار ميا محمد عمر چمکني، محمد حنيف، پروفېسر، ډاکټر ................

[۴] (همدغه اثر، ص ۳۳۵)

[۵] ديوان علي خان، تقويم الحق کاکاخېل، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، جدون پريس، دوېم چاپ، ۱۹۸۸ء، ص ۷۵.

[۶] ديوانِ بياض، مؤلفه محمد ايوب صاحب، پېښور، جهانزېب پرېس، ۱۹۵۸ء، مخ ۲۲.

[۷] علي خان ژوند، فن او فکر، حسرت، ډاکټر محمد زبېر، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده، عامر پرنټ او پبلشرز، جنګي محله، پېښور وړومبے چاپ مۍ ۲۰۱۵ء ص ۲۱۷

[۸] ديوان علي خان، قاسم بنوي، پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ بنو، جدون پرېس پېښور، جون ۱۹۹۱ء ص ۷۵

[۹] دیوان علي خان، ص ۷۵

[۱۰] دَ رنګ او بو قافله، اقبال نسیم خټک، ډاکټر، اداره علم و ادب پاکستان صوبه سرحد، چاپ جولائي ۱۹۹۱ء، ص ۳۴۳.

[۱۱] علي خان، ژوند، فن او فکر، دیوان علي خان تقویم صبب. پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، جدون پریس، دوېم چاپ، ۱۹۸۸ء

[۱۲] همدغه اثر

[۱۳] همدغه اثر، ص ۲۲۳.

[۱۴] دیوانِ بیاض، ص ۲۰.

[۱۵] دیوان علي خان، ص ۷۵.

[۱۶] همدغه اثر، ص ۲۱

[۱۷] دیوان علي خان، تقویم الحق کاکاخېل، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، جدون پریس، دوېم چاپ، ۱۹۸۸ء، ص ۷۴.

[۱۸] دیوان بیاض، ص ۲۲.

[۱۹] دیوان علي خان ، ص ۷۵

[۲۰] دیوان بیاض، ص ۲۲

[۲۱] دیوان علي خان، ص ۷۴- ۷۵.

[۲۲] دیوان بیاض، ص ۲۷ – ۲۸.

[۲۳] دیوان علي خان، ص ۷۵ – ۲۷

[۲۴] دیوان بیاض، ص ۷۵ .

[۲۵] دیوان علي خان، ص ۹۴ – ۹۵

[۲۶] دیوان بیاض، ص ۷۹

[۲۷] دیوان علي خان، ص ۱۰۵ – ۱۰۲

[۲۸] دیوان بیاض، ص ۸۲

[۲۹] دیوان علي خان، ص ۱۲۲

[۳۰] دیوان بیاض، ص ۸۲ – ۸۷

[۳۱] دیوان علي خان، ص ۱۲۸

[۳۲] دیوان بیاض، ص ۱۲۷ – ۱۲۸

[۳۳] دیوان بیاض، ص ۱۰۹

[۳۴] دیوان علي خان، ص ۱۳۱

[۳۵] دیوان بیاض، ص ۱۵۷

[۳۶] دیوان علي خان، ص ۱۱۹

۳۷ همدغه اثر ، ص ۱۰۴.

[۳۸] دیوان بیاض، ص ۱۵۴